څه ووایم څه سره تشبېه دې کړمه
ستوری دې وګڼم که لمر جانانه!

که دې سپوږمۍ د څورلسم وګڼم
یا د سپرلي شینکی سحر جانانه!

زه دې نرګس، که دې ګلاب وګڼم
که دې د سپینو واورو غر جانانه!

د تورو برېښ سره تشبېه دې کړمه
که یې څپه د سمندر جانانه!

ستا له ثنا مې قلم پاتې راغی
ته له دې ټولو یې بهتر جانانه!





...ن که مرو که مونږه پایو
...ه موږه وایو

...خدایه! بله اسره نشته
...ه ځاری او په دعا یو

...و جوړ کړه جنګ تري لري
...ره خوا تري کړه بیایو

...وري وچې کړه خاونده!
...ه سلګیو په ژړا یو

...ه یوه سره ګواښېږي
...و مل شه ستا پیدا یو.

۱۳/۷/۱۳۸۰



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یاد

ما مینه کړې ده ما زړه بایللی
په تا مې ګرانه! اشنا ! زړه بایللی

یوازې زه پر تا مین خو نه یم
تا باندې ټولې دنیا زړه بایللی

زړه به خبر وي زه خبر ترې نه یم
ملګرو! ما دی په چا زړه بایللی

یقین پرې وکړه یاره! دروغ نه وایم
ریښتیا ، ریښتیا مې په تا زړه بایللی

لکه د دوو ورځو ګلاب دی مړاوی
ښایي سردار دی په چا زړه بایللی.

۱۳/ ۹/ ۱۳۸۲



# یاد

له تا قربان شمه ځار، ځار جانانه!
سترګې راواړوه یو وار جانانه!

شي چې ما وته موسکۍ شي کله
سپرلی، سپرلی بهار، بهار جانانه!
نور دې هرڅه په دواړو سترګو منم
خو پام چې ونه کړې انکار جانانه!
خیر دی په خوله به دې نوم نه اخلمه
خو زړګی څنګه کړم قرار جانانه!
ژوند مې کړ تېر ستا د راتلو په تمه
لکه سوالګر ماشوم په لار جانانه!
فقیر ملنګ شومه د تا مینه کې
ګڼې اول ومه سردار جانانه!.

۳/۲/۱۳۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه رنځور په زړه بیمار یمه زه
لمبه، لمبه لکه چینار یمه زه

هر مازیګر دې لار څارم جانانه!
هر مازیګر سترګې په لار یمه زه

بېلتون دې خوب په ما حرام کړ اشنا!
ځکه خو ټوله شپه بیدار یمه زه

د ښار واټو کې ربه! څو به اورو؟
ماما کومک وکړه نهار یمه زه

دا څنګه برند، برند راله ګورې اشنا!
لکه چې هېر دې شوم سردار یمه زه.

۱۳۸۲لړم۲۹





ژوند کې ایله مې یو ښه کار وکړلو
یار ته د مینې مې اظهار وکړلو

بلا بلا مازیګري جانانه
ستا د راتلو مې انتظار وکړلو

خدایږو که روغ شمه ملګرو بېرته
جانان په ما د زلفو وار وکړلو

هېڅ ارام پرې اېښي نه یو موږه
هر چاپه موږ له شا ګوزار وکړلو

هغوی اوس ژاړي سر تندي ټکوي
په ښکلو هر چا چې اتبار وکړلو.

۲۴/۹/۱۳۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه کې مې سندره وه ټپه راغله
هسې مې بس خولې ته ستا نامه راغله

بیا به ګودر وسوځي لمبه به شي
بیا مازیګری شو بیا لمبه راغله

ستا د شوخ نظر د تابه نه یمه
ځکه مې پر مخ باندې خوله راغله

هېڅ اثر یې ستا په زړګي ونه کړ
اوښکه مې هر څو که په لېمه راغله

ما ویل ګنې ګرانې پسرلی شولو
ستا له لونګینه چې وږمه راغله

مړ به شمه، مړ به شمه مړ سردار
چرته که په خولې دې ګرانې نه راغله.
۱۲/۸/۱۳۸۲





صبرمې نه شي نور اقرار کومه
یار ته د مینې مې اظهار کومه

که پرې په دار شمه پروا نه کوي
ذکر د نوم به دې په جار کومه

خوله درنه اخلمه که څوګناه وي
دغه ګناه زه ګنا هګار کومه

ته ترېنه څو وارې یې ښکلی یاره!
ثله صفت به د بهار کومه

وایمه لپه کې اوبه که راکړې
هر مازیګر دې انتظار کومه

بیا که مې وژني که پرېږدي مې خلک
د مینې غږ مې په دلدار کومه.
۵/۷/۱۳۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یاد

لړه مې نه کړه ماهمه زندګي
ستا په نامه مې یاره کړه زندګي

انګار انګار ، لمبه لمبه سکروټې
له تا بغیر مې یاره ده زندګي

لکه سوالګر ماشوم په لاره زما
ستا انتظار کې یاره شوه زندګي

ما ته له تا بغیر ممکنه نه ده
ګرانه اشنا یوه شېبه زندګي

موږ پښتنو تېره جنګونو کې کړه
خپله یوه، یوه لحظه زندګي.

۱۳۸۲ لوی اخترشپه



# یاد

زما د زړه خبر ایله دې وکړه
چې یه قربان سره ټپه دې وکړه

زه دې په برندو کتو پوه نه شومه
انکار دې وکړلو، که ښه دې وکړه

زما زړګی دې له ګوګله یوړو
چې رنګه بنګه شوې نخره دې وکړه

خلک دې واړه کړل خبر جانانه!
د خلکو مخکې اشاره دې وکړه

زړه به مې وچوي یاره مړ به شمه
بلا دې واخلمه که نه دې وکړه

د انګو سرخي دې لا زیاته شوه
یاره چې ما باندې غوسه دې وکړه.

۲/۲/۱۳۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنهایۍ مې زړګی وخوړ صنم راشه
کله کله خو زموږه په چم راشه

چې زموږه سوي ساندې در په زړه شي
بوشه! تا باندې هم داسې ماتم راشه

زه به سل قدمه ستا په لورې درشم
خو ته ګرانې زما لور ته قدم راشه

چې مینو له غم پیدا کوي څوک
د هغو په کور خاونده لوی غم راشه

زه سردار خو دې همېش در کې ولاړ یم
یو ورځ خیر دی کنه یاره ته هم راشه.





دلته کې مه ودرېږه، شو به مختوري یاره
د کلي لاړ ده کنه، خلک راګوري یاره

موږ مېنان غریبان ، خود به څارۍ کړو ورته
دا ښکلي ، ښکلي خو تل، ښکلاوې پلوري یاره

ذکر پرې کومه مدام، راځنې ځنګ به شي هېر
وایه ستا د نامه، دغه څو توري یاره

پرې چې خبر شي خلک، د چا پروا مه کوه
مینه په غټ زړه کېږي، نه په کمزوري یاره

خلک خوبونه کوي، دي ناخبر له غمه
زه شپه رڼه تېروم، شمارمه ستوري یاره

دا ښکلي، ښکلي څرګه! در ځنې مړ مې نه کړي
موږ یو کمزوري خلک، دوی دي سرزوري یاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخاطر په لیکه

چې نه زړګی یاره نه خوله راکوې
وایه ظالمه راله څه راکوې

څنګه یې ومنمه ته ووایه
له ما زړه وړې ماله یې نه راکوې

زه خو له تا ځنې شراب غواړمه
ولې اشنا! راله اوبه راکوې؟

څه د میاعلي صیب لېونی خو نه یم
چې د خوږو پرځای ترخه راکوې

نوري باني دې ګراني نه منمه
داخل به خامخا ته خوله راکوې

۱۲/۴/۱۳۸۰



له یو شعر نه په الهام

له نعمتونو نه د خدای دی کنه
دا پسرلی خو پسرلی دی کنه

له ښایستونو دنیا ډکه ډکه
خوشحال ، خوشحال هر یو سړی دی کنه
ماته ګران دي ماته یو دي واړه
دا پېښوری که کابلی دی کنه
ماوې که وربځو کې سپوږمۍ پټه ده
دا خو دې خور په مخ پېکی دی کنه
د تا د مړو سترګو کاته جانانه!
ماته هم ژوند دی هم مرګی دی کنه
له ده نه پام چرته خفه چې نه شې
سردار خو یاره لېونی دی کنه

۱۳۸۱ غویی ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړګی مې ګیر د یار په سترګو کې دی
زما تقدیر د یار په سترګو کې دی

خوله مې شي ګونګه سترګې رډې پاتې
بلا تاثیر د یار په سترګو کې دی

زه یې چې بند په بند ترلی یم پرې
هغه ځنځیر د یار په سترګو کې دی

زه یې خبر له خپل انجامه کړمه
د ژوند تفسیر د یار په سترګو کې دی

اوس یې خلاصون ترېنه سرداره نشته
زړه مې اسیر د یار په سترګو کې دی

۱۳۸۲ وری ۱۲



ته چې بنګړو ته ورکړې شړنګ دلبره
قسم دی ما به کړې ملنګ دلبره

دا خو اثر ستا د کتو دی ګڼې
ما نه شراب څښلي، نه بنګ دلبره

د ښار د ښکلو خوی دې واخستلو
لکه موسم بدلوې رنګ دلبره

د دې دنیا دا واړه ښکلي، ښکلي
چرته کېدی شي ستا په رنګ دلبره

ستا له ښایست ستا له ښکلا عاجز دي
دا واړه ښکلي غنمرنګ دلبره

فقیر ملنګ دې لېوني سردار ته
ورکړه د سرو شونډو قلنګ دلبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲/۲/۱۳۸۳

لکه توتي مینا خبرې کوي
داسې زما اشنا خبرې کوي

دا یوعادت زموږ ملګرو کې دی
چې ترې جدا شې بیا خبرې کوي

ښه پرې پوهېږو چې هیڅ هم نه کوي
تش په نامه پاچا خبرې کوي

عمل یې ګوره دې ته مه ورګوره
چې په ممبر ملا خبرې کوي

څرک ته به څنګ خلک یاغي نه وایي
چې د ښایست ښکلا خبرې کوي

۵/۲/ ۱۳۸۲





سرې سکروټې شي لمبې شي اشنا سترګې
چې د تا په لور کږې شي زما سترګې

مېنتوب کې دا عجیب غریب عادت دی
هېڅوک نه ګوري ړندې شي بینا سترګې

د هغه هېرول ګران دي په ژوندون کې
چرته یو ځل چې خوږې شي په چا سترګې

په زړګي دې هیڅ اثر نه کا دلبره
که هرڅو له ژړا سرې شي زما سترګې

داسې زر، زر آینې ته مه ودرېږه
هسې نه چې درپسې شي د چا سترګې

۲۲/۴/۱۳۸۲ – کابل خیرخانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساعت ، ساعت شېبه شېبه پښتانه
کوي یو بل سره جګړه پښتانه

د خیر ته نه دي خو د شرکارو ته
تیار له ځېر مې دي همه پښتانه

دنیا یې سیل کوي له ورایه ګوري
په اور کې وسول ، شول لمبه پښتانه

دې جنګ جګړو دې پرد پسې خاونده
بدرنګ ، بدرنګ کړل ښایسته پښتانه

بس د یو څو روپو لپاره مدام
سره یو بل وژني ساده پښتانه

۳۰/۲/۱۳۸۲





له ما دې ژوند ، له ما دې شور وړی دی
تا چې زموږ له کلي کور وړی دی

شي به لمبې له شنه ګودره پورته
جنۍ له ځانه سره اور وړی دی
تا دې د مړو سترګو په مړاوي نظر
یاره زما د زړګي زور وړی دی
تا پسې ډېرو ژړا ګانو یاره!
زما د دواړو سترګو تور وړی دی
له ما ارام، له ما نه خوب جانانه
د تا د شنو بنګړیو شور وړی دی
لکه چې وژني یې په دار یې ځړئ
سردار یې ستا د عشق په تور وړی دی

* ځړئ: ځړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروا مې نشته د انجام جانانه
مینه کې چا کړی دی پام جانانه

ستا په لیدلو نه لیدلو څه شي
په مادې پورې دی الزام جانانه

ته مې هم نه شولې شریک د ژوندون
هم دې له ما یوړو ارام جانانه

په مخ دې تورې زلفې مه خوروه
خورې مې سکنۍ، سکنۍ مابنام جانانه

بغیر له تانه یې که زه لرمه
شیبه ارام دې شي حرام جانانه

د تا د مینې په تور پربړده چې شم
زه لېونی سردار اعدام جانانه





خوشحالي واړه دې پرتا راشي
برخه د تا غم دې په ما راشي

کله چې سترګې یاره پټې کړمه
تصویر دې سترګو ته زما راشي

ته چې د بل شولې زما نه شولې
وایه نو څنګه به خندا راشي

څومره خندا لره چې خوله جوړوم
هومره مې سترګو ته ژړا راشي

لکه بې روحه تن ته ساه سرداره
کله چې خواله مې اشنا راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دې سپوږمۍ نه هم له لمر جانانه!
ښايست کې وړی دی لمبر جانانه!

پرېږده ښه ډېر چې درته وګورمه
مه بندوه د کاله ور جانانه!

څه درنه کم شول چې غوسه شوې دومره
وايه زما په تش نظر جانانه!

په ځان دې ډېرې ګوتې څله وهې
هسې نه چرته شې نظر جانانه!





ترڅو زړګی دې چې بې لار نه شي
زما زړګی به هم په لار نه شي

تا نه بغير يوه شېبه جانانه
د لېوني زړه مې قرار نه شي

پټه ترڅو به مينه زړه کې ساتم
مانه خو نور جانانه وار نه شي

ورشه د زړه حال ورله خپله وايه
په خط و نه شي په ريبار نه شي

همېش دې خوله باندې انکار وي ياره
هېڅ دې په خوله باندې اقرار نه شي

پرې دنيا وال مو شي خبر له مينې
په يره نه کېږي، په ډار نه شي

چې ستا نازونه او ادا وینمه
خپل ورکېده له دې دنیا وینمه

چې سترګې پرانیزمه هیڅ نه وینم
چې سترګې پټې کړمه تا وینمه

په محبت باندې مې لا یقین شي
چې د رقیب دا ناروا وینمه

زړه به مې څنګه یاراني ته وشي
یاره چې ستا جفا ، جفا وینمه

که اتفاق په اتفاق ونه کړي
د پښتنو په کې فنا وینمه





د چا په نام ساقي
راکړه یو جام ساقي

نشه ، نشه مې کړه
یمه نا ارام ساقي

چې شي غمونه مې
لږ څه ارام ساقي

واړه خمونه کړه
تمام ، تمام ساقي

په لېوني سردار
کوه لږ پام ساقي



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ورته وګورم کچه غونډې شي
چې ورته نه ګورم خفه غونډې شي

زما او ستا دغه خوږه یارانه
خدای خو دې نه کړي چې پیکه غونډې شي

چې سترګو، سترګو کې یو بل وینو
زه خو لا نښه یم دا خوله غونډې شي

رڼا یې هرخوا ته د مخ خوره شي
چې زلفې لرې کړي ډیوه غونډې شي

چې پابندي پر دیدن ولګېږي
مینه نو هغه وخت خوږه غونډې شي

چې دې شېبه سرداره! ونه وینم
هغه شېبه په ما لمبه غونډې شي





که هرڅو دې لکه غشي برند کاته دي
خو بیا هم لکه نبات شکر خواږه دي

چې خفه نه شي ښه ډېر قدر یې وکړه
نن مې زړه! دیار غمونه مېلمانه دي

دا سپوږمۍ ده تورو لړو کې ایساره
که پرمخ دې یاره تور زلفان خواره دي

نور کړي مینه، محبت کړي یو تر بله
دا چې یو بل سره وژني پښتانه دي

د حمزه په پل مې پل ایښی روان یم
که هرڅو مې قدمونه لا واړه دي

۳۰/۱۲/۱۳۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلفې خورې مه پرېږده
تورې تیارې مه پرېږده

راله یې وایه اشنا
زړه کې ګیلې مه پرېږده

نن یې ښې د یرې وکړه
بیا له بانې مه پرېږده

ترپا یه راوړه ساقي
ډکې پیالې مه پرېږده

د یارغمونه مې خوري
ما بې نشې مه پرېږده

۲۲/۸/۱۳۸۳





ماته چې خواږه ګورې
کار به راله وګورې

ولې مې خون اخلې ته
ولې راته مړه ګورې

یوځای یې روغ نشته دی
کوم ځای مې د زړه ګورې

لږ خو سر را وباسه
څو به ته له وره ګورې

سترګې خو دې شته کنه
حال د سردار نه ګورې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه مــې يــار شــه مــا دې يــار كــړه
ليونـــو كـــې مـــې دې شـــمار كـــړه

تــه مــې نــه شــوې خــو مــا هســې
زنـــدګي لـــه تانـــه ځـــار كـــړه

همېشـــــه دې پـــــه خولـــــه دا وي
همېشـــــه وايـــــې چـــــې وار كـــــړه

تـــه را نغلـــې خـــو مـــا ســـترې
ســـتا د كلـــي كـــوڅې لاړ كـــړه

چـــې لـــه حالـــه مـــې خبـــر شـــې
خـــداى دې ماغونـــدې بيمـــار كـــړه



ياد

خوښـــــه د زړه وه اشـــــنا ، پتـــــه نـــــه وه
چـــا لـــه مـــې وركړلـــو دا پتـــه نـــه وه

قســـم دى ســـم لكـــه د اور ســـېزل كـــړي
مـــا لـــه خـــو ســـتا د ادا پتـــه نـــه وه

قاصـــده! دروغ دې وي ګـــودر كـــې بـــه وي
هلتـــه خـــو هـــېڅ د لـــيلا پتـــه نـــه وه

لـــه محبـــت نـــه وړانـــدې روغ ومـــه زه
د لېوتتـــــوب د بـــــلا پتـــــه نـــــه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یاد

کاشکې ډولۍ نه دې ړومبی مې جنازه پورته شي
خیر که په کلي کې بیا دغه اوازه پورته شي

د بېلتانه له ډېره درده، ډېره سوخته یاره!
لکه تنور له سوي زړه نه مې لمبه پورته شي

دا خوشحالي مه بوله، اوج مې د غمونو بوله
چې کله، کله مې له خولې څنې ټپه پورته شي

دا جدايي به مې اخر درځنې مړ کړي یاره
خولې نه یو ورځ به مې د وینو فواره پورته شي

۱۳۸۴ دلوی اختر دریمه شپه



## یاد

ما باندې څه داسې اثر شوی دی
سترګو نه مې خوب مرور شوی دی

بیا یې څه اورېدي چې مخ اړوي
بیا خدایږو د چا په خبر شوی دی

دا خو د جانان له مخ رڼا خېژي
ما ویل ګنې لمر دی سحر شوی دی

نن به درنه خوله اخلم یوازې یې
نن راته دا وخت میسر شوی دی

ستا دغم له لاسه ګرانه یاره څرك
دښتو او رغو باندې سر شوی دی

۱۳۸۴ کب ۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه د حمزه څه د خاطر خواږه دي
زما غزل کې د خیبر خواږه دي

زه خو یې فرق هډو کولی نه شم
خلک د لر او هم د بر خواږه دي

هسې پرې ځان خو خلک نه وژني څه
دا ښکلي، ښکلي خو کاپر خواږه دي

زما په خوله کې لاتر اوسه پورې
د تا د سرو شونډو د سر خواږه دي

۱۳۸۳/کب/۱۹





خلك به کړي مړه ګوره
ستا مړاوي کاته ګوره

زړه زما بې واره شو
سترګو لاندې مه ګوره

مړه کاته مې نه دي خوښ
نېغ راله راوګوره

ظلم کوه خیر دی خو
حال ته مې هم ته ګوره

حال مې د زړه څه پوښتې
خپل زړه ته دې وګوره

۱۳۸۴ غوی ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یو شعر نه په الهام

کاشکې مې زړه پر چا بايللی نه وی
اوس به زه داسې کړېدلی نه وی

د محبت د مينې زور و که نه
فرهاد به غر چرې کيندلی نه وی

يا چې دا ناز، نخرې يې نه کولی
يا ښکلی يار مې دومره ښکلی نه وی

که يې له پايلې نه خبر وی نو ما
ما به د زړه چرې منلی نه وی

زه لېونی سردار به روغ ګرځېدی
که مې زړګی په تا درغلی نه وی

۱۳۸۵ وری ۱۴





د اباسين يوسفزي په ليکه

په ما څه داسې لېونتوب راشي
چې غېږ دې وګورمه خوب راشي

در پسې ډېرو شوګېرو نه زما
ياره! په سترګو کې پړسوب راشي

لکه هوسۍ په لار تړپونه وهي
چې جنکۍ په پېغلتوب راشي

چې روايات د وصال خنډ نشي
کاشکې دوران د ماشومتوب راشي

دی د مودو شوګير وهلی سردار
ستا په زنګون که ورله خوب راشي
۱۳۸۴ مرغومی ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه له نازو ادا جوړه جنۍ
مه کړه خاوند چې شي ناجوړه جنۍ

ښه درته وې مې مازيګر دی کنه
اوس دې دا سره لاسونه مروړه جنۍ

زما د زړه برج يې را ونړاوه
ده د منډېش امير کروړه جنۍ

چې لږ زما په حال دې رحم راشي
خدای خو دې تا هم کړي ناجوړه جنۍ

خپله هم سپينه، زړه يې هم درواخله
سمه له واورې نه ده جوړه جنۍ

۱۳۸۵ زمری ۳۱





د يو شعر په تضمين

نه مې کړې ښکل نه مې کړې خپل ښکليه
لاړې د بل شولې د بل ښکليه

ته زندګي، ته زندګي يې زما
ته مې اجل ته مې اجل ښکليه

په کې به ځان ته خامخا ووينې
که واورې ته زما غزل ښکليه

پرې چې په جام د شونډو خوله دې کېږدم
تندې اخيستی يمه جل ښکليه

له پښتني حسن دې ځار شه سردار
پښتون پښتون، شډل شډل ښکليه

۱۳۸۵ چنګاښ ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یاد

یو ورځ ضرور به مې په شر اړوي
زلفې په منځ کې چې دلبر اړوي

ماځوروي، ما کړوي ور باندې
رانه اشنا، اشنا نظر اړوي

په یوه هم جنۍ ونه درېدله
شېبه، شېبه خپله خبر اړوي

خود به مې زړه نه وینې څاڅي اشنا
چې سره ډولۍ دې په خیبر اړوي

لکه د عمر جل وهلی چې وي
سردار جامونه سر په سر اړوي

۱۳۸۵ غبرګولی ۲



## یاد

بیا خو دا زړه هډو زړګی نه شولو
چې بې له تانه لېونی نه شولو

په څو، څو واري جانان ورتللو
خو زما زړه هډو سړی نه شولو

بلا، بلا خواري مې وکړله خو
ورځنې صبر مې زړګی نه شولو

زما د زړه په جل وهلې دښته
باران ونه شولو سپرلی نه شولو

ورك شه د خاورې په خدمت کې چې څوك
د سپېلنو غوندې لوګې نه شولو

۱۳۸۵ تله ۳۰ مه- جلال اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت دې راله دغه مقام راکړ
چې ساقي ړومبی له ټولو نه جام راکړ

د مجنون غونډې په کاڼو بدرګه شوم
ستا د چم وګړو دغه انعام راکړ

شي حرام دې په دې ټوله زندګۍ کې
که به ماله ستا غمونو ارام راکړ

بیا تر مرګه به دې یاره احسان مند یم
که محفل کې دې نن چرته سلام راکړ

ځان له غم د ګور کفن کوه سرداره!
د ربیار په خوله یې دغه پیغام راکړ

۱۳۸۵ تله ۲۳





طاقت مې نشي مانه زر* واړوه
مانه دې مړې سترګې نظر واړوه

ته ځه بیا خیردی که ځې ځه جانانه!
خو ما د شونډو په کوثر واړوه

زما د یار شونډو ته هیڅ دې ساقي
خمونه واړوه ساغر واړوه

چرته چې هم ځمه رقیب وینمه
داخل مې خدایه! په دلبر واړوه

۱۳۸۵ غبرګولی ۱۵

*زر: ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لکه تنکۍ غوټۍ تازه اوسه
تا نه خزان لرې همېشه اوسه

زه په ژړاګانو باندې مړ ښه يم
ته له خنداګانو ځنې شنه اوسه

ډکه له خوښيو نه، خوندونو نه
ستا د ژوندګۍ هره شېبه اوسه

زه به درته دا دعا کومه چې:
ژوند دې د ګل نه خو ته غونچه اوسه

يه د لېوني سردار جانانه ته!
لږه خو ولاړه په وعده اوسه

۱۳۸۵ تله ۵



ياد

د اباسين يوسفزي پر ليکه

نه دې څه خط نه دې سلام راځي
تشې کوترې ستا له بام راځي

څنګه ته لاړې، څنګ دې فکر وکړ
چې بې له تا ما له ارام راځي

ستا په خاطر په ميکده کې راله
ړومبى له ټولو ځنې جام راځي

نن مې را ياد شوې، نن ضرور به ما له
د يوه نوي شعر الهام راځي

د يار له خولې قاصد ويل کلي ته
سردار ته وايه! چې په پام راځي

۱۳۸۵ سلواغه۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له زاهد سره ملتیا ونه کړه
شکر دی ما دغه ګنا ونه کړه

شیخ د خرقې لاندې جامونه وڅښل
خو ما یې شاته اقتدا ونه کړه

اوس هم لاوایې چې ما څه کړي دي؟
کومه نادوده دې اشنا ونه کړه

څنګ دې په نورو زه اتبار وکړمه
تا په یوې باندې وفا ونه کړه

چې مې زما جانان زما شي څرکه!
چا راله هم دغه دعا ونه کړه
د ۱۳۸۵ کب ۱۹مه





وکړه دعا سرداره!
چې شې زما سرداره!

ژوند بې له تا سرداره
نشي له ما سرداره!

نن مې په زړه وربېږي
بلا، بلا سرداره!

پام، چې اتبار ونه کړې
دلته په چا سرداره!

د دې ماحول ښکلو کې
نشته وفا سرداره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نه انکار کړي نه اقرار غلی دی
دا څه خبره ده سرکار غلی دی

په دې مالت خدايږو څه غم تېر شوی
ګودر خاموشه دی چينار غلی دی

ښايي مرګي خلاص کړو د ژوند له شره
ژړا يې نه خېژي بيمار غلی دی

څرکه! ناره د اناالحق پورته کړه
بلا موده وشوه چې دار غلی دی

د ۱۳۸۵ المريز د کب لومړۍ



ياد

تېره شپه زه په شوګير باندې کړې کړم
خدای اخته زه په دې څه ډول خوارۍ کړم

بيا زه خير که عمر تېر په ملنګۍ کړم
خو چې ښکل دې يو ځل سرې شونډې غوټۍ کړم

هسې نه چې قد قامت زما بدرنګ دی
محبت کې روستو پاتې غريبۍ کړم

دا خو ستا له غمه ځيرې ګرېوان ګرځم
هسې نه چې دا کارونه له مستۍ کړم

۱۳۸۲ وري ۱۸ مه

د تېرو شپو مې سحر داسې نه و
پيکه به و خو مګر داسې نه و

دا کوم بدرنګ ورباندې کوډي کړي
دلبر، خو داسې، دلبر داسې نه و

بلا مستي وه، بلا شور و پکې
غلی خاموش، مازيګر داسې نه و

ښار کې به هم جونې اوبو له راځي
خو دا بمبه ده ګودر داسې نه و

دا خو په مور باندې ودان شو کنه
ګنې پخوا پېښور داسې نه و

٦/١٢/٢٠٠٧



یاد

چې مېن شو لېونی شو
سردار اوس ايله سړی شو

ته يې نه شوې، خو دی خپله
له خپل ځان ځنې پردی شو

اوس له خلکو لرې ګرځي
اوس د غرونو غرڅنی شو

ستا غمونو په دې حال کړو
ستا غمو کې لېونی شو

هيخ په هېڅه په ژړا شي
زړه مې دغومره نری شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېوني کېږمه دلداره راشه
مړ شومه مړ له انتظاره راشه

بغیر له تا مې پکې سا ډوبېږي
کلي ته یو ځلي خو یاره راشه

درنه به هېره شي ښکلا د کابل
یو ځل خو ته تر ننګرهاره راشه

مونږه دې هم کړی بلا انتظار
دلته خو هم چرې بهاره! راشه





لکه سپوږمۍ له لمر رڼا اخلمه
ستا په لیدلو نوې ساه اخلمه

ستا په خاطر ستا د مالت د ښکلو
جانانه! هر وختې بلا اخلمه

تا پرېښودی نشم، خو ستا لپاره
دنیا پرېدمه یاره! تا اخلمه

کله چې هم وځم له کوره سحر
یو ځل ضرور د مور دعا اخلمه

نور خو بلا یاره! ستړی شوی یم
زه له انتظاره ستړی شوی یم

پرېږده چې دې غېږه کې دمه شمه
ځی* راکړه نګاره! ستړی شوی یم

زه له دې نه پس کلي ته نه درځم
ډېر پر دغه لاره ستړی شوی یم

ځمه چرته دښتې ته پنا وړمه
نور له دغه ښاره ستړی شوی یم

کله خو هم یاره! ځه اقرار وکړه
ستا له دې انکاره ستړی شوی یم

*ځی: ځای





څله راګوري څه کول غواړي
جوړې په نظر مې قتلول غواړي

نور دې هم ظلم ته زور ورکړه اشنا
که مې پاګل، پاګل کول غواړي

دا چې په بله رانه مخ اړوي
دا مې زړګی اځارول غواړي

داسې چې ګورې، جوړې څرک جانانه!
له کلي کوره ورکول غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راله دې زړه، راله زړګی راکړه
که نه وي زړه کې راله ځی راکړه

خوښه دې خپله خو بس ماله یاره
په دغه دوارو کې یو شی راکړه

که لږ نشه شمه او درد مې هېر شي
ساقي پیاله را، کندولی راکړه

ربه! جانان که راله نه راکوې
مرګ، خو مې حق دی، نو مرګی راکړه

۱۳۸۲کب۱۱





روغ رمټ وي زړه په چغو په فریاد شي
چې اشنا مې کله هم چرې را یاد شي

ستا له زلفو نه کاروان د وږمو راوړي
ستا له کلي چې راپورته کله باد شي

بېرته کډه ورله غمه د یار راوړه
چې کنډر کنډر زړګی مې پرې اباد شي

صدقه به دې په درکې زندګي کړي
که قبول دلېوني سردار مراد شي

۳/۵/۲۰۰۸

شیبه حیران شوم چې هغه پرته ده
که نه په مخکې مې ډیوه پردته ده

څنګه جرات وکړمه، خواله درشم
ستا خو په رګ رګ کې لمبه پرته ده

درزا دې رو کړه زړه چې ویښه نه شي
جنۍ مې غېږه کې ویده پرته ده

د دې محل وګړي ټول ویده شول
خولا یوه کړکۍ ایله پرته ده

۲/۵/۲۰۰۸





زړه دې پوه کړه چې سړی شي
څرکه! نه چې لېونی شي

ته چې راشې خزان لاړ شي
ته چې راشې نو سپرلی شي

خپل جانان باندې یرېږم
هسې نه رانه پردی شي

ټول غمونه رانه هېر شي
یار چې وخاندي موسکی شي

۱۳۸۷ وری ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه شمه چې د اور په تاو اوبه شي
داسې هجر کې دې یاره! زما زړه شي

نه په مال باندې مړېږي څوک دنیا کې
نه به وږي د دیدن چرې ماړه شي

چې له یاره مې لاس وانخلې رقیبه!
ګوره! دا به درته بیا چرې ښه نه شي

ستا له غمه سردار ټوله شپه شوګیر و
لړ یې سر په زنګون پرېږده چې ویده شي

۱۲/۱/۱۳۸۷





ټپې، ټپې دي، سندرې دي نغمې دي
ستا خبرې یاره! ستا په شان خوږې دي

دغه ستا د شرابي سترګو کانې دي
راپسې چې اوس د ټولو خلکو خولې دي

دا چې سوی سوی بوی مې له خولې خېژي
دا مې بلې په زړګي باندې لمبې دي

نور خو خدای شته ښکلي ډېر راباندې ګران دي
خو بد ړې مې په دې چې بې وعدې دي

زه سردار یې په لومړي نظر نشه کړم
سترګې ستا څه د زړو میو پیالې دي
۱۳۸۵لوی اختر لومړۍ ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ياد

څومره سوز دی په دې غږ کې څومره ساز دی
دا د کوم یو لېوني د زړه آواز دی

چې منزل ته رسېده یې هڅه و نشته
دا منزل د عشق څه دور و دراز دی

دا منم چې ښکلي ډېر دي په دنیا کې
خو جانان مې په دې ټولو کې ممتاز دی

دا چې تل راته نه، نه کوې جانانه!
دا دې قصد دی او که نه دغه دې ناز دی؟

خدای خبر چې دا انجام به یې لا څه وي
لېونتوب د محبت چې بیا اغاز دی
۱۲/۵/۲۰۰۸



## ياد

غواړمه چې هېر دې کړم، خو نه کېږي
ګورو به اشنا چې روستو څه کېږي

څه وکړم مجبور یم ګنې هر وختې
یاره! ستا لیدلو ته مې زړه کېږي

ښه دی چې په کلي کې ګودر لرو
ښه دی چې زموږ پکې کاته کېږي

زه خو دې نور سترې انتظار کړمه
وایه کنه کله دې راتله کېږي

هسې نه چې یخ مې درنه ووهې
پټ مې کړه اشنا زما ساړه کېږي
۱۸/۲/۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



شونډې يې غلي دي نظر خاموشه
خدای خبر ولې دی دلبر خاموشه

ته چې له کلي ځينې تللی يې نو
کلی خاموشه دی، ګودر خاموشه

داسې چې ستا ظلم جاري وي اشنا
يو ورځ به شي مې زړه ځيګر خاموشه

خدايږو د چا سترګو سپېرو وواهه
داسې خو نه و مازيګر خاموشه

ستا بېلتانه په دغه رنځ اخته کړ
سردار ګرځېږي اوس اکثر خاموشه

۸/۷/۲۰۰۸





منمه اور به په شپه لګېږي
خو په وژو يې زمانه لګېږي

لکه تيرکش دې بانه داسې ياره
رسا رسا په نښانه لګېږي

ستا د وړې خولګۍ خبرې اشنا
په ما خوږې لکه ټپه لګېږي

هر وختې شنه جوړه کې ګرځه ګلې
تا سره دغه جوړه ښه لګېږي

۱۳۸۵ لړم ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاشکې په خوله مې وی زړګی لېونی
اوس به زه نه وی لېونی، لېونی

ستا انتظار کې اشنا ستا نه مخکې
هسې نه را نشي مرګی لېونی

چا سره خپل کوټه نصیب بدل کړم
څه سره ووهم تندی لېونی

دا پېرزوینه هم د تا ده اشنا
چې راته وایي هر سړی لېونی

جانان مې پړه پر غاړه ناخلي وایي
سردار خو و، سردار خو دی لېونی





له یوه شعر نه په الهام

څو که کړم خواري، راله خوب نه راځي
وه سردارولي، راله خوب نه راځي

زه به بوډاتوب کې ربه څه کوم
لاخو ده ځواني، راله خوب نه راځي

ستا د بېلتانه د غم له لاسه زه
ګرځم سودایي، راله خوب نه راځي

ورځ هم زه تمامه وینه تېره کړم
شپې تر سبایي، راله خوب نه راځي

راشه چې له غم ځنې دې خلاص شمه
وي چې تنهایي، راله خوب نه راځي

25/11/2008

(c) ketabton.com: The Digital Library



بری یې نشته ناکامېږي سړی
مینه کې هر وخت بدنامېږي سړی

د دغه وخت پر ښکلو، ښکلو باندې
بد به کوي چې مینېږي سړی

زما که اورئ سره ښه مه کوئ
ښه سړیتوب کې خرابېږي سړی

په دغه ورځو کې کابل ته مه ځئ
چا راله وې پکې ورانېږي سړی

وخته لوټ شوی وي په دغه ښار کې
څو چې په ځان باندې پوهېږي سړی

منمه ډېر دي خو توپیر یې ګران دی
سړي نه ډېرو کې ورکېږي سړی
26/11/2008



یاد

توري پای ته رسي ثنا نه رسي
دې باندې، خو وسه زما نه رسي

څو که دوی ځانونه خدایان ګڼي
وایي دي، خو تا ته الله نه رسي

شپه چې د چا ګور کې مقرره وي
هغه له بېګا تر سبا نه رسي

کوږ بار حقیقت دی بې منزله وي
سرته هیڅ یو کار په خطا نه رسي

9/11/2008

(c) ketabton.com: The Digital Library



توکل په خدای کړه راشه
بانه یو شی کړه راشه

په ما بهار راوله
په ما سپرلی کړه راشه

یا خو مې روغ او یا مې
سم لېونی کړه راشه

بې تا نه مرمه اشنا
تم مې مرګی کړه راشه





خوله مې خوږه کړه راشه
ماته توبه کړه راشه

ژوند کې یوځل خو یاره!
وعده پوره کړه راشه

د رقیبانو خوني
لمبه لمبه کړه راشه

زړه مې ښه کېږي په تا
ځان راښکاره کړه راشه

بې تا نیمګړی سردار
خولړ پوره کړه راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یاد

په زړګي مې څه نرى شانې درد راشي
چې جانان راځنې کله هم جدا شي

خداى خبر که مې بيا دغه خوب رښتيا شي
لېونى په ژوندانه که بيا زما شي
هره شپه زه په دې هڅه په دې هاند يم
چې مې سترګې سره ورشي خو سبا شي
ماته لاره څوك را وښايئ ملګرو
څنګه وکړمه جانان چې مې پخلا شي
هسې زېب دې په سرکو شونډو موسکا کړې
لکه بوټې کې تازه ګلونه وا شي
ته مې لاس په لاس کې واخله چې جانانه!
رقيبان مو په ليدلو ورخطا شي
بيا به څه کړو بيا به څه کېږي سرداره!
که له مينې مو خبره دا دنيا شي؟



## یاد

دا دې ماته غوړولى جوړې دام دى؟
چې خور کړى دې په مخ د زلفو لام دى

دا مې ستا د نامه توري پکې نغښتي
ځکه خوږ مې تر شکرو هم کلام دى

هيڅ خلاصى د پښتنو ورځنې نه شي
غوړېدلى ورته هره لار کې دام دى

خود غزل به مې له شر او شوره ډك وي
چې اخيستى مې پايزېبو نه الهام دى

خداى خبر که تر پښه روغ شمه سرداره!
نړېدلى مې د زړه د خونې بام دى

٣١،١٣،٢٠٠٨

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه دی چې بیا دې راله نه ونه کړه
ښه دی چې زړه زما لمبه ونه کړه

ته راله تل بلا ګیلې کوې، خو
ما درته ژوند کې هم یوه ونه کړه

ستا په سپېره خولګۍ کې نه ناسته ده
کله دې هم جانانه! ښه ونه کړه

مدام وعده راله د بیا راکوې
چرې دې نغده اراده ونه کړه

دا مې جانان راسره نه و څرکه!
ځکه دې سږ اختر مزه ونه کړه

۲۳/۵/۲۰۰۸





نن مې دې زړه ګنې خطا ونه کړه؟
چې په راتلو یې درزېدا ونه کړه

ښه یې لیدمه چې یې در کې پروت یم
خو یار له کبره څه پروا ونه کړه

د زړه خبره مو په زړه پاتې شوه
یار هم ونه کړله، هم ما ونه کړه

نن په محفل کې سره ویل یارانو
سردار غزل کې څه بلا ونه کړه؟

۲۹،۱۲،۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته قبوله مې دعا کړې
بېرته یار ربه! زما کړې

دا غوټۍ شولې ګلونه
که جانان مې شونډې وا کړې

زه پرې خوښ یم، خوښه ستا چې
اوس دعا او که ښېرا کړې

دا اوبه د ژوندانه وې
که دې شونډې خوله کې را کړې؟

22/12/2008





داسې چې شور دې پایزېبونه کوي
زړګی به خود زما ټوپونه کوي

ما ترېنه ساته چې ما ونه وژني
قاتلې سترګې دې مرګونه کوي

زما وژلو ته یې ایښې جوړې؟
داسې چې دا اشارتونه کوي

زه یې له غمه شپه رڼه تېره کړم
خو یار بې غمه خپل خوبونه کوي

نور سره یو شول، سره غاړې وتل
ښېستانه خپلو کې مرګونه کوي

د ۱۳۸۵ کال غبرګولي ۵ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خون به مې واخلي خونخورې سترګې
وارووه ما نه دې لمبې سترګې

مه شه بې تانه تر سهاره پورې
یوه شېبه که شي ویدې سترګې

خدای دې زموږ مینې ته خیر راپېښ کړي
د چم مالت شوې راپسې سترګې

خدایږو چې ماله هم ژړا راولي
کله چې هم وینم لمدې سترګې

تا کړو ناوخته ګنې ستا لپاره
ځرکه! تر ډېره غړېدې سترګې

۱۳۸۷لیندی**۲۴**مه





دا ژوند مې خواله راغی که مرګی راغلی دی
له ډېرې مودې وروسته څوک سرې راغلی دی

ویل دې چې سپرلی شي نو په بېرته به راځې
راځه کنه جانانه پسرلی راغلی دی

لیدو باندې مې کلي کې وړو چغې شروع کړې
هلئ، راشئ، راځئ چې لېونی راغلی دی

نن بیا خدایزده د چا کمبخت کورګی به ورانوي
نن بیا زمونږه کلي ته مرګی راغلی دی

موده وشوه چې هیڅ یې زه له حاله خبر نه یم
نه خط د جانان راغی او نه دی راغلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره چې د بېرې شات خواږه لګي
دې نه دې هم زيات ياره کاته لګي

زه پرې لکه ګل هسې تازه شمه
بوی يې د راتلو چې پر ما ولګي

نور هم بلا ښکلي شته دی خو
څه وکړمه، تا سره مې زړه لګي

تا چې له رقيبه سره وګورم
سوی مې په دې سوي لړمانه لګي

دغه عادت بس دی ياره! ورک که نور
ستا دې «نه» او «نه» سره مې نه لګي





له يوې هندي سندرې نه په الهام

څومره ښه کار مې وکړ
تاله اظهار مې وکړ

نور مې په وس کې نه دی
ډېر انتظار مې وکړ

سبا راځي به جانان
د ګوتو شمار مې وکړ

ځان له دوکه مې ورکړه
په تا اعتبار مې وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیمګړې غزلې





د باز محمد عابد په لیکه

د بنګړو شړنګ د رباب ترنګ غواړي
زما زړګی د سترګو جنګ غواړي

دغه ساده دا لېونی زړګی مې
له مانه تل د جانان ثنګ غواړي

د تاپه درکې دی ولاړ جانانه!
سردار د سرو شونډو قلنګ غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې مې اشنا شولې جانان شولې
خوږ لکه ایمان ته په ایمان شولې

ناسته دې د ښکلو سره وکړله
یه زړګیه! وه زړګیه! وران شولې

کده درله غم چې دیار راوړله
ښایي چې زړګیه بیا ودان شولې

۲/۱/۱۳۸۴



یاد

یوه ورځ به مې دا زړه راله کارګوري
ښه پوهېږم ستا کاته راله کارګوري

ښکته ښې دې سترګې پام چې پورته نه کړې
ګنې یاره! ستا باڼه راله کارګوري

یوه ورځ به د منصور غوندې په دار شم
یوه ورځ به مې دا خوله راله کارګوري

۱۳۸۵ تله ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساه مې سوره ده زړه مې رپي، شیمه پاتې نه ده
زړه کې مې ستا د غمو زور حوصله پاتې نه ده

دغه چې نه راځي له ماسره زیاتی کوي یار
که نه د نه راتلو یې هیڅ بهانه پاتې نه ده

بغیر له تا نه مې ژوندون پیکه، پیکه دی اشنا
بغیر له تانه مې ژوندون کې مزه پاتې نه ده

۱۳۸۵وږی۳





نه غواړمه نور څه ترینه نه غواړم
خدای ځنې یو موټی پښتانه غواړم

دغه مې ارمان دی چې یو ځای شو موږ
دا د جبر کرښه ورانېده غواړم

جنګ له دغه کلي ورکېده غواړم
سوله امن دلته کې راتله غواړم
۱۳۸۲کب ۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنې یې وکړلو منمه، خو بیا هم راغی
شکر، شکر چې په بېرته مې صنم راغی

جوړې مرمه چې په سترګو مې له واره
ستا له تلو سره تیاره او تورتم راغی

چرته هسې یې هم یاد نه کړې جانانه!
تګ دې ووې او په سترګو کې مې نم راغی





په ویښه خو یې څه کړې چې خوبو ته نه راځې
نو څنګه به مې اوښکې سترغلو ته نه راځې

الله دې ورته خیر کړي چې مې څه په جانان وشول
دا ډېره موده کېږي چې اوبو ته نه راځې

ګرېوان به ورله څیرې تر لمن کړمه، خو دا
افسوس چې دا بېلتون زما لاسو ته نه راځې
۱۳۸۲ مرغومی ۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا رانه هله اشنا واړولې
چې دې دنیا سترګې را واړولې

سترګو مې ستا د سترګو تاب رانه وړ
ځکه مې ګرانې له تا واړولې

تا چې زلفانو سره لوبې کړلې
ښه شوه چې خدای په بلا واړولې





نه مې ځوك خپل دی پکې، نه مې رقیب دی
ښار دی جانانه! بلا، بلا عجیب دی

دلته د چا، چا قواره ولولمه
دلته مې څوك زړګي ته دومره قریب دی

هغه چې مینه وه، هغه جنون و
دغه هجران سرداره! دا مې نصیب دی

۱۳۸۵ لړم ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوندو نه چې څکه د اشنا کوم
شکر مسلمان یم، بسم الله کوم

ته به یې دروغ ګڼې منمه خو
زه در سره مینه په رښتیا کوم

داسې د رقیب مخکې مې مه رټه
دا یوه غوښتنه زه له تا کوم

۱۳۸۵غبرګولی۱۵





بد به یمه یاره او که ښه به یم
څه به یمه ستا په نظر څه به یم

تل مې په زړګي باندې وریږي ته
خدای خبر که یاره ستاپه زړه به یم

یو ځل خو مې خیردی خواله راشه ته
څو به ستا یادونه وي او زه به یم

۲۹/۱۰/۱۳۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکنې ماښام دی ګلې، ځه بېرته کورته درومه
په ما الزام دی ګلې، ځه بېرته کورته درومه

د پښتنو کلي کې، مینه ممکنه نه ده
مرګ یې انجام دی ګلې، ځه بېرته کورته درومه

په لوڅو پښو باندې مزل دی په ازغنه لاره
عشق نا ارام دی ګلې، ځه بېرته کورته درومه

۲۱/۱۰/۱۳۸۳





بلا دې واخلمه بلا مازیګر
وم دې په تمه تر قضا مازیګر

د کلي لار ورله ثارمه ځکه
راله نېټه ایښې اشنا مازیګر

ښه راله وګوره دیدن مې وکړه
خدایږو که راشي داسې بیا مازیګر

۲۷/۱۰/۱۳۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چې کله خبرې هسې
راځي مې خولې ته سندرې هسې

شولې زلمی، شونډې دې تورې شوې
لکه ګورګورې ، ګورګورې هسې

مشر کورونه ، کورونه جوړ کړل
ګرځي بې وسه ، سوالګرې هسې

۸/۱۱/۱۳۸۳



یاد

نو به خود په دوزخي باندې یادېږي
پښتانه چې په پښتو باندې شرمېږي

پښتانه هم څه عجیبه مېړني دي
ورونه وژني خو پردو باندې زورېږي

یو کې بقا یو کې فنا د پښتنو ده
یا یو کېږي به دا قوم یا به ورکېږي

۷/۱۱/۱۳۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه درکړمه وایه اشنا څه لرم
خوار غریب سړی یمه هېڅ نه لرم

ته یې که منې نو له تا ځار اشنا
ډک له مینې ، مینې، مینې زړه لرم

هسې که بېلېږې ګرانې خیر دی خو
توان دې د خپګان جانانه نه لرم





شېبه له مانه سترګې مه اړوه
خیر دی جانانه سترګې مه اړوه

ژوند مې د تا مړاو کتو کې نغښتی
مرم بې له تا نه سترګې مه اړوه

په ما شېبې د ځنکدن دلبره
چې شي اسانه سترګې مه اړوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یواځې سترګو مې نه زما زړګي ژړلي
در پسې ډېر جانانه ما لېوني ژړلي

دلته په هر مالت کې غم تېر شوی
دلته دې هر یوه سړي ژړلي

ستا بېلتانه کې ما سردار لېوني
بلا، بلا مازیګري ژړلي



خواله مې چې کله هم هغه راځي
ما باندې نازکه شان خوله راځي

غم له دې زه دومره هم خفه نه یم
کور له د پښتون مدام مېلمه راځي

دغومره نو ژر مایوسه کېږه مه
ژوند کې خو اشنا سره توده راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توتې





اوس به نو زه او جانان څه پلمه کړو
چې ګودر نشته دی چینار نشته دی
دلته مودې وشوې خزان دېره دی
دلته مودې وشوې بهار نشته دی
راځه د ښکلو مینه پرېږده اشنا
زره په دوی باندې اتبار نشته دی
هغوی به څنګ سپرلي ته وخندېږي
د چا چې ورور د چا چې پلار نشته دی
د خدای خاطر وکړه جانانه راشه
ماکې نور وس د انتظار نشته دی
یا خو جانان باندې اثر نه کوي
یا خو زما غریب ازار نشته دی
خلاص به شې یاره ترې سودا مه کوه
یو ورځ به واورې چې سردار نشته دی

۲۰/۴/۱۳۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا یادونه تربې زړکې
زما زړه رنځه چینه ده

نیم زړګی مې پسې نشته
لېونی رانه خفه ده

شنه لوګي تري پورته کېږي
زړه زما کړې لمبه ده

رنځه کړې مې ستا یاد کې
یاره ستورو سره شپه ده

دغه څو ټکي چې لولې
دا زما د ژوند کیسه ده

ما سردار ده خپله کړې
لاړ غزل کې د حمزه ده

۲۱/۱۲/ ۱۳۸۳





خدای ته زما دغه دعا ده یاره!
حسن دې ګل شه خو ته ګل چې نه شې

د چا د غیرو خبرو نه منې
دومره ساده دومره پاګل چې نه شې

یاره! د ښار د خلکو رنګ وا نخلې
لکه موسم بدل، بدل چې نه شې

په ما کې تاب هسې هم پاتې نه دی
سترګې دې وا‌ړوه قاتل چې نه شې

دغه ښېرا به درته کوم سرداره!
چې زما نه شولې د بل چې نه شې

۱۳۸۴ کب ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدا یږو که څوك را باندې اوښکې توی کړي
زه د بې کسه سړي مړی یمه

رانه جلال او جمال دواړه لاړل
زه د افغان د کاله غړی یمه
ته مې تکمیل یې خواله راشه زما
بغیر له تا یاره نیمګړی یمه
چې دې نړۍ کې دي تر ټولو روستو
زه د یو داسې قام وګړی یمه
د وخت حالات که مې لږ پرېږدي ارام
زه راشین کېږمه ، زه زړی یمه
زه مخکې ښکلی وم، بد رنګ خو نه وم
زه په دې رنګ حالاتو کړی یمه
خاونده! ته مې مدد ګار شې ګنې
لکه خسړی اوبو وړی یمه

۱۳۸۵ غویي ۲۰مه





کله که هم زه څه خبره کوم
نامه مې ستا د ژبې سر ته راځي

صبر مې خلاص شو ګلې راشه کنه
اوښکې ترڅو به مې ټټر ته راځي

څو انتظار به کوم څو پورې زه
څه وخت به دا لېونۍ ور ته راځي

تانه غمونه دې هم ښه دي اشنا
کله نا کله، خو چکر ته راځي

هرڅه کې وینمه سردار لېونی
هرڅه کې دی زما نظر ته راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یاد

ستا په محبت کې مې
هسې نوم بد نام شولو

ته مې په لاس رانغلې
عمر مې تمام شولو

څیرې ګرېوان ګرځمه
دغه مې انجام شولو

پورې په ما ستا د عشق
تور شولو الزام شولو

عشق کې دې سردار اشنا
لاړلو ناکام شولو

۱۳۸۴ زمری ۲۶



## یاد

ستا کتو په زړه سوری کړم
ستا کاته راته ښه نه شول

تېرو بېر مې له زړګي نه
یاره ستا غنې بانه شول

ستا غمونو کې جانانه!
ټول هډونه مې وراسته شول

جوړې مرمه چې یاران مې
داسې یو، یو را په زړه شول

تا به ما ته جوړ کاته چې
خلک تا ته په کاته شول

یو دې زه له غمه وینې یم
نور تمام خلک ویده شول
۱۳۸۵ تله ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یاد

دا ځل مې زړه دی چې د یار پشانې وژاړمه
ګوندې که دی لکه زما پخلا کوو ته راشي

ښه دی چې څوك خو يې زموږ كوڅه كې اوسي چې دا
د هغو خلكو په پلمه زما ليدو ته راشي

زه يې د يوې شېبې وس نه لرم، خو غم د جانان
راشي زما په زړه كې واړوي مودو ته راشي

ورله ګرېوان به تر لمنې څيرې، څيرې كړمه
دغه رقيب او دا بېلتون كه مې پنجو ته راشي

د ۱۳۸۵ كب ۹مه



## یاد

بيا زندګي خدايه! زه نه غواړمه
بس دی يو ځل مې دا ګنا كړې ده

ورځم د يار كوڅه كې ساه وركوم
نن مې د زړه سره سلا كړې ده
چې مې زما جانان زما نه شولو
ښايي چې چا راته ښېرا كړې ده
هسې زاهد به مې كافر بولي خو
ما په هر ګوټ كې بسم الله كړې ده
د مينې جنګ كې برى وړم به ضرور
دا ځل مې مور راته دعا كړې ده
ما د حمزه په پلونو پل ايښى دى
ما پيروي د خپل بابا كړې ده
ګوته په خوله به دې ياران شي درته
څركه! غزل كې دې بلا كړې ده

د ۱۳۸۵ لمريز كال آخره شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دې په زړه کې څومره ځی لرمه
دغه سودا زه لېونی لرمه ؟

ستا مینتوب له ټولو لرې کړمه
ګنې زه خپل لرم، پردی لرمه

ښه دی دیدن ته مې د ښکلي جانان
ګودر لرم، مازیګری لرمه

خیر دی که تا یوازې پرېښودمه
زما هم خدای شته، زه هم خدای لرمه

۱۳۸۲/مرغومی۶مه





ستا لیدو باندې مې خولې نه توري تښتي
لکه وور ماشوم خبرو کې بندېږم

لکه واوره چې د لمر په تاو ویلېږي
داسې زه دې بېلتانه کې ویلې کېږم

دامنمه چې مې نه شوې، خو جانانه!
دا منې به چې په نوم دې زه یادېږم

لکه خوار مزدور د اوړي په ګرمۍ کې
داسې زه پخپلو اوښکو کې لمبېږم

دغه هسې تصنع ده اصل نه دی
دا چې یاره! د دنیا مخکې خندېږم
۱۳۸۲کب ۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ياد

ته راله خير ښېرا كوه، خو ياره!
زه به همېش درله دعا كومه

پام چې خورې زلفې راټولې نه كړې
نن دې همداسې تماشا كومه

ته زه منم چې جفاګانې كوې
خو زه به تا سره وفا كومه

چې مې له غم دنيا خبره نشي
زه په ژړا كې هم خندا كومه

۱/۲/۱۳۸۷



## ياد

ته چې نه يې، نو زما هم مزه نه وي
ته چې راشې، نو زړګي ته سكون راشي

هغه هم به زما مينې ته حيران شي
كه دنيا ته چرې بېرته مجنون راشي

لكه ووړ ماشوم مې زړه راته ژړېږي
ستا له تلو سره پرې داسې جنون راشي

زړه مې غواړي چې يې زړه ته رانږدې كړم
كله هم چې چرې مخ ته پښتون راشي

۷/۲/۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



خزان وهلی یم نیمزالی ګل یم
زه د بهار په تمه شپې تېروم

زه لېونی په خپل ژوندون تنګ شوی
ستا د اقرار په تمه شپې تېروم

چې یې په خیال خاطر کې هم نه راځم
د داسې یار په تمه شپې تېروم

۲۰/۲/۱۳۸۴





د یو چا ژړا په تاثر

ته چې خاندې نو زه هم له خندا شین یم
ته چې وژاړې نو ماله ژړا راشي

که هرڅو یې زه ښېرا ته جوړومه
خو په خوله مې درته یاره! دعا راشي

زه ځه خیر که پرې اخته یمه جانانه!
خو خدای مه کړه چې غمونه په تا راشي
۲۰/۵/۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو چا خندا په تاثر

زه ځه خیر دی که له غمه ځني مرمه
خو ته یاره! خنداګانې خوشحالي کړه

دا د ښکلو وظیفه ده، دا یې کار دی
ته هم ګلې! وفا پرې بې وفایي کړه

اوس کړېږه، اوس ژړېږه لېونیه!
تا ته چا وې چې د ښکلو دلداري کړه
۲۲/۵/۲۰۰۸



زما خو ستا هېرېده وس کې نه دي
کاش کې مې ته له زړه بهر کړې یاره!

لکه چې زما د قتلولو اراده دې کړې
دا چې په مړو سترګو نظر کړې یاره!

اور شي راپورې چې رقیب ته کله
دا سپین مړوند په لاس کې ورکړې یاره!
۲۲/۵/۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

څله يې کاږو باندې ولې خلکه
درته به وکاندي ازار لېوني

خواله يو ځل پېښه راوکړه ګنې
کړي به مې ياره! انتظار لېوني

لاړو مياعلي صيب کې يې وترلو
مينه کې ستا شولو سردار لېوني
۱۳۸۵غبرګولی۳مه



چې ستا ځوانۍ ته ګورم
ميو ته زړه مې کېږي

توبه مې کړې منم
خو صبر نه مې کېږي

غېږ کې مې پټ کړه ګلې
ساړه، ساړه مې کېږي
۱۳۸۵غويی۲۸مه

ما لېونی به کړې د خدای لپاره
دومره په زیر لېونۍ مه راګوره

خلك شكي دي هسې پوه چې نه شي
هر وختې ته له بلۍ مه راګوره

زه لېونی سردار یې تاب نه لرم
داسې په برندو جنۍ مه راګوره

۱۳۸۵غويي۲۸مه



ژوند کې په تا جانانه
سره تووده رامه شه

چې شم جدا له تانه
داسې شېبه رامه شه

زه خیر دی مړ دې شم خو
په تا خوله رامه شه

۲۰/۲/۱۳۸۴

خلک به هرڅه هرڅه بولي مینه  
خو ما ته اور ماته لمبه ښکاري

راسره نشته دی جانان ملګرو  
ځکه دا سر اختر پیکه ښکاري

لکه شبنم وي یاره ګلو باندې  
داسې په مخ دې مړه خوله ښکاري  
۱۳۸۳ کوچنی اختر



یاد

څه وخت به راځي پته یې نه لګي  
خدایږو چې کوم ځای مې دلبر پرېوتو

وخت دانه دانه کړلو پښتون غریب  
څه ترینه لر پاتې، څه بر پرېوتو

هسې به ظاهر خلکو ته هیڅ نه وي  
اصل کې رشاد* لکه غر پرېوتو

*: موخه ترې اروابناد علامه رشاد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا راله مينې نه انكار چې وكړو
زما ويلو ته نو څه پاتې شول

ته يې له ماسره چې وليدلې
رقيبان ټول ګوته په خوله پاتې شول

ژوند كې مې يو ارمان پوره نه شولو
ټول ارمانونه مې په زړه پاتې شول
۱۵ لړم ۱۳۸۵





اور به دې چم كلي ته پورې كړي ته
نور داسې شوخه داسې شنګه مه ځه

زړه به يې وچوي ګرانې خيردې كنه
د لېوني سردار له څنګه مه ځه

***

ته چې موسكۍ شې او مړه، مړه وګورې
زما ژوندون سپرلی، سپرلی شي ياره

څه شي، كه دې زما په شونډو وواية
چې د شونډو كندولي شي ياره

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه يو ورځ خو چرته هو هم وکړه
هر وختې نه هم ګرانې خوند نه کوي

چې يې دې وس د پوره کُولو* نشته
تشه وعده هم ګرانې خوند نه کوي
*پېښوری اصطلاح

***

منم پرې کبر کړې غرور کوې خو
مه کړه خاوند چې درته اور شه حسن

که په دعا باندې مې ياره کېږي
لا دې سېوا شه لادې نور شه حسن



ياد

شبنم وينځلي ګل نه ګرانه ياره
ښايسته، ښايسته يې، ښکلی يې ته

لږ خو څه وايه زړه مې چوي جانانه
څنګه خاموش يې څنګه غلی يې ته

***

پام پرې کوه خير دی ماشوم دی ياره
له ما بېلېږي زړه له تا سره ځي

ستا د بېلتون له لاسه ګرانه ياره
د زړګي وينې مې ژړا سره ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وس يې په ما کې هېڅ د زغم نشته دی
رډ کاته که مې ديار که د اغيار وي

روغ رمتې شي چې ته ماته په خندا شې
زړه مې څو که د مودو مودو بېمار وي

***

بيا مې نه خوب وي نه ارام او سکون
خوږه ياره د تا ياد چې کله راشي

ستا د زلفو خوشبويي ځان سره راوړي
ستا له لوري ګرانې باد چې کله راشي





ښکارځنې سترګې يې زما په لور کږې کړې
ښايي بيا لکه چې ښکار زما د زړه کړي

مې خواران چې شراب وڅښي نو نشه شي
ما نشه ديار د مړو سترګو کاته کړي

***

د محبت په اور ستي زړه ته مې
شپه ارام شپه قرار وبښه

له تا به نه غواړي نور خوله جانانه
خير دی همدا ځلې سردار وبښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښه دیدن دې وکړم
راله رسا وګوره

په یو ځل څه شي یاره
یو ځلې بیا وګوره

٢٠/٢/١٣٨۴

***

چې یې نه شې پوره ګُولی
نو وعدو ته څه حاجت دی

لېونی مې خلک بولي
دا سوغات د محبت دی

١٨/٢/١٣٨۴





له مخ کړه لرې زلفې
زما په زړه تیاره ده

د رڼا څرک نه لګي
ګرانې تیاره، تیاره ده

***

جانان مې غوږ کې راته داسې ووې
ګودر ته مه راځه بدنام نه شې

مېن همېش مینه کې سر بایللی
نه چې جانانه ته اعدام نه شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاب مې زړګی نه لري
تا ته درکتی نه شم

ډېر ظلم ستم مه کړه
نه چې لېونی نه شم

***

تاله چې وګورمه
شي مې او تر زړګوټی

رانه دې غواړي خولګۍ
غواړي مې شر زړګوټی





تابانده دې ښکلې ده دنیا جانانه
بغیر له تا دنیا بدرنګه ښکاري

په خوله ویل خو څه مهمه نه ده
د زړه حالت د مخ له رنګه ښکاري

***

په تا اوري په ما کېږي
د خولګیو زکاتونه

ستا د سرو شونډو لذت ته
هېڅ دي هېڅ دي شرابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ ته پلو دې ګلې سم ونیسه
دچا بدرنګو سترګو ښکار نه شې

هوا سړه ده سیلۍ لګي یاره
په ځان دې پام کړه چې بیمار نه شې

***

زړه به دې یخ شي او که نه ووایه
چې شي مې پورته جنازه ووایه؟

وربانـدې خوله خو دې څه نه ماتېږي
د ((نه)) پر ځای جانانه! ((ښه)) ووایه





دا چې شېبه روستو هېټکۍ مې نیسي
دا به په زړه د چا ورېږمه زه

ته که ډیوه یې رڼاګانې کوې
خو د پتنګ هسې سوزېږمه زه

***

زما پخپل نصیب کې خوند نشته دی
ځکه له تا نه څه ګیله نه لرم

د ژوند امید مې له پخوانه، نه و
خو د مرګي هم حوصله نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا به د چا سترګې که ښېرې به وې؟
زه چې یې له یاره جدا کړی یم

ما دې تل په شونډو موسکا غوښتې خو
تا یاره! همېش په ژړا کړی یم
۳/۵/۲۰۰۸

***

دغه چې اوس لکه پردۍ تېره شوه
یو وخت همدغې به زه زړه ګڼلم

دوست، خو څه خیر ملګرو څوک د چا دی
دې خو دښمن هم زه ونه ګڼلم





لکه د پاڼو منځ کې ګل هسې
زېب کوې ګلې دومره ښه په لوپټه کې

شه د پاریس جونې لوګی ورځنې
څومره ښه ښکارې پښتنه په لوپټه کې

***

ما خو دې مینه کې دنیا پرېښوده
ستا دې په ځان دغه اتبار دی که نه؟

راله دې حال د زړګي ووایه ته
ما غوندې ستا هم بې قرار دی که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګړي دې مه شرنګوه، مه خوځوه
جوړوي شور، جوړوي شور جانانه!

اوس ګوزاره دلته کې ګرانه شوله
خبر په موړ شو کلی کور جانانه!

***

ځرکه! که غزل دې اشنا واوري، نو
خپله به هم ځانته ښه حیرانه شي

تا خو یې بلا ستاینه کړې ده
مه شه که رقیب دې پښېمانه شي





# ځلوریزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې څه مې مه لېږه يو څه خو راکړه
که زړګی نه راکوې خوله خو راکړه

شراب د شونډو که دې نه راکوې
خير دی په لپه کې اوبه خو راکړه

***

نه کېږي جانانه هيڅ څه نه کېږي
خوله که راله راکړې وايه څه کېږي

څو که زه د صبر تعويذ وکړمه
هومره مې يې سرو شونډو ته زړه کېږي

۱۷/۱/۱۳۸۴





نوی ژوندون راکوي ساه راکوي
کله چې يار خوله په خندا راکوي

ساقي د تا منت په څه واخلمه
شراب د شونډو چې اشنا راکوي

***

له شوره ډکه له مستۍ ډکه ده
له څومره تاوه لېونۍ ډکه ده

سرور سرور، نشه نشه ده پکې
ګرانې له هر څه دې خولګۍ ډکه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک يې په څه، څوک يې په څه ماتوي
سردار روژه د يار په خوله ماتوي

له ښکلو پام څرکه ګيله ونه کړې
ښکلي خو تل د خلکو زړه ماتوي

***

ګلاب، نرګس، لاله، غاټول ګلونه
هېڅ دي رخسار ته دي دا ټول ګلونه

ته له همه وارو يې ښکلی ياره
څو له دنيا کړمه راټول ګلونه





دا چې ته زلفې په رخسار جوړوې
خدايږو چې ماته ترينه دار جوړوې

ته په نرۍ نرۍ موسکا جانانه
زما په زړه کې نرۍ لار جوړوې

***

ته وا توتي کړي يا مينا خبرې
داسې خوږې دي ياره ستا خبرې

لکه ټپه لکه سندرې ياره
داسې دي ښې لګي په ما خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د رقيب مخکې اشنا دې ووې
دا دې له دروغو که رېښتيا دې ووې

شونډې دې ورپېدې پوه نه شومه
ښېرا دې وکړه که دعا دې ووې

***

يار چې کله، کله راله وګوري
زړه مې ځان له ځای د پټېده ګوري

سترګو ته دې وو ايه چې ټيټې شي
نه چې راله کار جانانه وګوري





کور مو لرې لار اوږده شوه، ديدن ګران شو
بېل مو کلی هم کوڅه شوه، ديدن ګران شو

مخکې ښه و ځوک خبر نه وو جانانه
اوس خبر دنيا همه شوه ، ديدن ګران شو

***

له تاقربان شه له تا ځار زما زړګی
پام کوه پام نه کړې اځار زما زړګی

څنګ چې رنګ کړ بابري جومات هندوانو
همداسې رنګ کړ راله يار زما زړګی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه په رنځ به مې اخته کړې، ته به روغه کړ ځې
مړه به زما دژوند ډیوه کړې ، ته به روغه کړځې

په شوخ نظر به مې دشوخو ، شوخو سترګو یاره
ستي ستي، لمبه لمبه کړې، ته به روغه کړځې

***

چې خزان کې هم په تمه د سپرلي یو
بیا خو زه او زړه مې دواړه لېوني یو

داسې غلی له ما تېر شو ته به وایې
زه او یار مې سره خپل نه یو پردي یو



ته څه پوهېږې بې له تا زندګي
څنګه تېرېږي یار په ما زندګي

خیر دی که زه په تروږمۍ کې اوسم
خو ستا، خو یاره! شوه رڼا زندګي

***

ته را واچې روې یاره سترګې مړې
کړې لمبه مې سم له واره سترګې مړې

څه الله دې ترېنه وساته که نه نو
قتلول کوي سرداره سترګې مړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خزان سیلۍ لګېږي له بهاره خولګۍ اخلي
خوب کې ګورمه رقیب چې مې له یاره خولګۍ اخلي

ښایي لیک یې دي پر ډډه د اشنا دنامه توري
ځکه هر وخت لېونۍ له دنګ چیناره خولګۍ اخلي

***

له ماښامه ترسهاره، لپې لپې اوښکې توی کړم
ستا بېلتون له لاسه یاره ، لپې لپې اوښکې توی کړم

څو که داډ زړګي ته ورکړمه، هرڅو که یې پخلا کړم
خو بیا هم شي ناقراره، لپې لپې اوښکې توی کړم





دوی زړونه ماتوي د زړونو ښکار ته دي پیدا
دا ښکلي ځورولو ته ازار ته دي پیدا

اقرار ور باندې کله هم ونشولو په ژوند
سرې شونډې دې جانانه جوړ انکار ته دي پیدا

۱۳۸۵/۳/۳

***

یاغي زړګی مې هېڅ له ښکلو نه اوړي
هر وخت ورګوري له کتلو نه اوړي

که دې په میو شي په دار د شونډو
لېونی څرک یې اوس له څښلو نه اوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما مينې زما ځانه ښېرې مه کړه
نه چې ولګي جانانه ښېرې مه کړه

مازيګرى دى پام کوه جانانه
نه چې خونه مې شي ورانه ښېرې مه کړه

***

پام کوه جنى، په بلى، مه خېژه
شې به لېونى، په بلى، مه خېژه

سترګې د دې خلکو درپسې به شي
هر وختې بلى، په بلى، مه خېژه



ياد

جوړ به کړې پېغور راله اشنا ګوره
بيا که دې را وکتل په بيا ګوره

يوځلې خو هوکړه ياره وکړه ته
بيا د محبت مې انتها ګوره

***

صبر مې نه کېږي ما زر نشه کړه
ما دې د سترګو په نظر نشه کړه

ته ځه بيا خير دى که ځې ځه جانانه
خو ما د شونډو په کوثر نشه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه دې جانان کړم څنګه وکړمه؟
تا چې زه د ځان کړم څنګه وکړمه؟

زړه خو مې درکړی خو چې ځان اشنا
هم درنه قربان کړم څنګه وکړمه؟

***

ژوند کې نیمګړی نیمه خوا پاتې شوم
پښتون غریب یمه تر شا پاتې شوم

نور په مریخ، ستورو، سپوږمۍ کې اوسي
زه لا تراوسه پر بیدیا پاتې شوم





نن دې بلا ډېر جانانه! یاد راځي
څه وکړم په شونډو مې فریاد راځي

خدایږو چې د زړه غوټۍ مې وسپړي
کله چې له پورې کلي باد راځي
۱۳۸۲کب ۱

***

پوره مو ته دغه ارمان کړې خدایه!
جانان زما ما د جانان کړې خدایه!

«چې مې له تلو ځنې جانان پاتې شي»
شروع ښه شړکنده باران کړې خدایه!

۱۳۸۲کب ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا چې ياره! خپل چې دې د ځان کړمه
څه وکړمه څنګه دې جانان کړمه؟

سره هم اثر ورباندې نه کوي
څو که ورله څيرې مې ګرېوان کړمه
۱۳۸۲ مرغومی۱۸

***

د پايزېبونو شور مې خوب وړی دی
زړه کې بل شوي اور مې خوب وړی دی

هسې دې مينه کې بدنام شومه زه
هسې راپورې تور مې خوب وړی دی





زه يمه که ته يې که امير دی
هر سړی يې زلفو کې اسير دی

ته چې ورسره يې نو داچا ويل
ياره چې سردار ګڼې فقير دی

***

څه وکړمه څنګ ؟چې رانه هېر شي يار
تريخ لکه د زهرو شي، ګڼه پر شي يار

سره هم نظر راباندې نه کوي
زه يې در کې پروت يمه او تېر شي يار

۲۱/۵/۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر مې هر وختې ستا لاره کې دی
دا ځلې ږدمه درته زړه لاره کې

زړګی مې غواړي، خو مجبور يمه زه
چې درته نشم کړی کاته لاره کې

***

ميخانې نه، له شرابو او له جامه زندګي
زمونږه شروع کيږي له ماښامه زندګي

يارانو په محفل کې ستا په نوم راباندې وڅښل
ما هم کړله قربان د تا له نامه زندګي

۱۳۸۵ لړم ۱۵



ياد

نه مجبوري، نه ناچاري د ښکلو
بې وفايي ده، بيماري د ښکلو

له ما بدتر به شي که ودې کړله
چرته په ژوند کې دلداري د ښکلو
۱۳۸۵ ليندۍ ۲۳

***

ستا د پايزيبو اوازونه ياره
تښتوي سترګو نه خوبونه ياره

شه هغه لاره له ګلونو ډکه
چې ته پرې اخلې قدمونه ياره

۳/۱/۲۰۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

څه ګټل دي، څه بايلل دي
ژوندګي تلل او راتلل دي

له دې دوه شپبو ژوندون نه
يوه نوره غلا کول دي
۱۳۸۵ لړم ۲۵

***

له ګړنګونو غورځېدلی ښه يم
خو نه له زړونو نه لوېدلی ښه يم

ته خنداګانو باندې مسته ښه يې
زه په سرو سترګو ژړېدلی ښه يم





تر سبا پورې غړېږي زما سترګې
لرې هم نه ويدې کېږي زما سترګې

ستا له غمه او له ډېرو شوګيرو نه
يوه ورځې به ړندېږي زما سترګې

***

نن مې بيا په زړه وربېږي
يار زما په زړه وربېږي

زه به يې خدايږو خو دی
دی مې والله په زړه وربېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېږم ولې مې سندرو ته زړه شوی دی
تا سره مې یاره! نن خبرو ته زړه شوی دی

ګورو به چې دغه پېرزوینه په ما کړې که نه؟
نن مې د یار سرو شونډو شکرو ته زړه شوی دی

***

په ژوند کې صبر انتظار ملګرو
له مانه نه کېږي دا کار ملګرو

ما ورته کله د زړه حال ونه وې
ما ورته ونه کړو اظهار ملګرو





خدايږو ملګرو مېړنی یمه زه
دومره غمو کې چې ژوندی یمه زه

دا چې دې اوس هم انتظار کومه
دا نو رښتیا چې لېونی یمه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هایکوګانې





زما له مرګه وروسته مه ځه هلته
ځکه د یار له دره خاورې زما
یه د سبا نیسمه! پاکې نه کړې

***

شراب له آره داسې نه وو خراب
یو څه خرابو خلکو وښنل ځکه
وربانـدې دغه شانې داغ ولګېد

***

اوس یې نو خوښه ده چې
دل ازاري، که دلداري کوي دا
ما خو مې زړه ورله سرداره ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ياد

تر ګل يې هم بدن نازکه دی خو
زه دې خبرې ته حيران يمه چې
سينه کې زړه يې ثنګ له کاڼي جوړ دی

****

ښه دی چې خوب دې خراب شوی نه دی
ګنې ما ستا د کاله شاته ياره!
بېګا تر ډېره وير ژړا کړې ده

***

څه چې مزه ده، ده په همدغه ژوند کې
پاتې سر خوږ دی هسې
راځه چې ياره ميخانې ته لاړ شو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**